# الله تعالی به زما له امت څخه یو سړی د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روایت دی وایې چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: «الله تعالی به زما له امت څخه یو سړی د قیامت په ورځ د ټولو مخلوقاتو په حضور کې ځانته کړي ، او مخې ته به یې نهه نوي صحیفې خپرې کړي، هره صحیفه به د سترګو تر لیدو پورې (پراخوالی) ولري، بیا به ورته ووایي: آیا ته پدې کې له کوم شي څخه انکار کوې؟ آیا تاسو سره زما ساتونکو لیکوالانو ظلم کړی؟ نو هغه به ووایي: نه اې ربه، نو وبه وایې: آیا ته عذر لرې؟ هغه به ووایي: نه اې ربه، نو هغه به وفرمایي: هو، تاسو زمونږ سره یوه نیکي لرئ، نو یو کارت به راوویستل شي چې په هغه کې به: (أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ ) یعنې زه ګواهي ورکوم چې حق معبود نشته دی مګر یو الله دی، او زه ګواهي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی، نو وبه وایي: وزن دې حاضر کړه، نو وبه وایي: دا کارت به د صحیفو پر وړاندې څه شی وي؟ نو هغه به وفرمایي: یقنیا تا سره به ظلم نه کیږي، وایي: دا صحیفې به د تلې په - یوه - پله کې کېښودل شي او کارت به په بله پله کې، نو صحیفې به پورته - سپکې - شي او کارت به درروند شي، ( ځکه ) د الله تعالی د نوم په وړاندې هیڅ شی نه شي درندېدلای».

[صحیح] [ترمذی او ابن ماجه روایت کړی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي چې الله تعالی به د قیامت په ورځ د هغه له امت څخه یو سړی د ټولو مخلوقاتو په وړاندې راوغواړي تر څو ورسره حساب وشي، نو هغه ته به ۹۹ صحیفې وړاندې شي، چې هغه به د ده د بدو کړنو عملنامې وي چې په دنیا کې یې کړي دي، او د هرې صحیفې اوږدوالی به د سترګو د لید په اندازه وي، بیا به الله جل جلاله دې سړي ته ووایي : آیا ته د هغه څه څخه انکار کوې چې په دې صحیفو کې لیکل شوي؟ آیا زما ساتونکو کاتبانو پرښتو تاسو سره ظلم کړی دی؟ سړی به وایي: نه اې زما ربه. نو الله تعالی به وفرمایي: آیا تاسو سره د هغه عملونو لپاره عذر شته چې تاسو په دنیا کې کړي دي؟ نو سړي به ووایي: نه اې زما ربه! زه هیڅ عذر نلرم. نو الله تعالی به وفرمایي: هو، تاسو له موږ سره یوه نیکي لرئ، او نن ورځ په تاسو باندې هیڅ ظلم نشته. وایي: نو یو کارت به راوویستل شي چې په هغه کې به لیکلي وي (أشهد أن لا إله إلا الله، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله) زه شاهدي ورکوم چې له الله پرته بل معبود نشته او شاهدي ورکوم چې محمد د هغه بنده او رسول دی. نو الله تعالی به دې سړي ته وفرمایي: وزن دې حاضر کړه. نو هغه سړی به په حیرانتیا سره ووایي: اې ربه! دا کارت د دې صحیفو په مقابل کې به څه وزن ولري؟! نو الله تعالی به وفرمایي: په تا به هیڅ ظلم نه کیږي. وایي: صحیفې به د تلې په یوه پله کې کېښودل شي، او کارت په بله پله کې؛ نو هغه پله به سپکه شي چې صحیفې پکې وي، او هغه پله به درنده شي چې کارت پکې وي، نو الله تعالی به ورته بخښنه وکړي.